Te Korowai Whetū
Social Cohesion

# سوداګري د مرستې لپاره څه کولی شي؟

## Social Cohesion Guide for Businesses

## په سوداګرۍ پورې تړاو

سوداګرۍ د ټولنیز یووالي (social cohesion) په رامینځته کولو کې مرسته کوي، له خلکو سره مرسته کوي لکه څنګه چې دوی تړاو لري، احساس کوي، په طبیعي ډول چلند وکړي، او په ټولنه کې برخه واخلي. سوداګري د کارموندنې د ټمرینونو له لارې یو ټول شموله کاري کلتور رامینځته کوي. دوی خلکو ته دا توان ورکوي چې په خپلو ټولنو او ټولنو کې د دوی کارمندانو ته د عاید په ورکولو او د "پای ته رسیدو" لپاره د مالي فشار کمولو سره په بشپړ ډول برخه واخلي. شواهد ښيي چې تنوع او شمولیت اقتصادي ګټې لري لکه د کار ځای کې د نوښت زیاتوالی.

موږ ټول یو له بل سره توپیر لرو، مګر موږ غواړو یو ځای شو، خپل اختلاف او ناورته والی ولمانځو. دا مهمه ده څکه چې دا احساس هر کس نه کوي چې هغه څوک چې دي هماسې دې واوسې یا دې باور پرې وشي چې د دوی غږ به واوریدلی شي.

موږ مخ پر زیاتیدو متنوع او د ډېرو بیلا بیلو ټولنو درلودونکی هیواد یوو او موږ اړتیا لرو. چې یو بل ته د اوریدو او غوږ نیولو لارې چارې پیدا کړو. موږ غواړو د خپلو توپیرونو او قوتونو درک کولو ته ژمن شو، په هغه څه کار وکړو چې موږ سره متحد او یو بل ته مو نږدې کوي.

پیوستون

## هغه څه ډول ښکاري

په یوه ټولنه کې چې موږ ټول په ښه توګه سره یوځای کیږو، نو موږ یو بل او خپل ګاونډیان پیژنو، د کار ځای کې د ښکیلتیا احساس کوو، ماشومان مو ځانونه د ټولنې برخه احساسوي او موږ پوهیږو چې د اړتیا په وخت کې د مرستې لپاره چیرته لاړ شو.  موږ احساس کوو چې موږ د هغو خلکو سره د خبرو کولو توان لرو چې موږ ښايي په نورمال ډول ورسره خبرې نه وي کړي، کله چې موږ د خلکو تبعیضي خبرې اورو، نو پر وړاندې یې غږ پورته کړو، او په ارامه یې ور یادوو چې موږ څوک یو، د کوم ځای یو او کارونه څنګه تر سره کوو. په بحران کې موږ هیڅوک شاته نه پریږدو، هر څوک پکې شامل دي.

د نورو پیوستونونو جوړول

# - تاسو څه کولی شئ

**موږ د سوداګرۍ پر مټ څه کولی شو چې له، پیرودونکو او مراجعه کوونکو سره د پیوستون په برخه کې مرسته وکړو ترڅو له موږ سره یو ځای شي، تنوع ته غاړه کیږدي، برخه واخلي، په نورو باور وکړي او د پیوستون او درناوي احساس وکړي؟**

## پیوستون او په نورو باور کول

- فکر وکړئ چې څنګه د مختلفو ډلو لپاره د لاسرسي وړ دندې پیدا کړو.
  - د ټولنیزو رسنیو، سازمانونو، راډیوګانو، پوډکاسټونو، ټولنیزو رسنیو د بیلا بیلو منشورونو/پلیټ فارمونو، د رسنیو د ورځپاڼو د مختلفو شمېرو او د ځانګړو لیدونکو لپاره د تلویزیوني چینلونو له لارې د دندو اعلانول.
- چمتو شوو خدماتو او توکو د لاسرسي په اړه فکر وکړئ.
  - که ستاسو انلاین سوداګري ترسره کېږي نو آیا دا سوداګري مو د کمزوره نظرو خلکو لپاره د لاسرسي وړ ده؟ که ستاسو سوداګري د پلورنځي یا دفتر په بڼه د عامه خلکو په وړاندې پرانیستې وي نو ایا د هغو خلکو لپاره چې د ګرځېدو نیمګړتیاوې لري د لاسرسي وړ ده؟

## د اختلاف منل او د درناوي احساس کول

- د اختلاف منل او د درناوي احساس کول
  - هغه جشنونه او مراسم وپیژنئ چې د کارکوونکو لپار ه مهم دي، دوی وهڅوئ څو په بشپړه توګه په کار کې بوخت شئ او دوی ته فرصتونه برابر کړئ چې د خدمتونو او توکو په ډیزاینولو او چمتو کولو کې برخه واخلي.
- د کارکوونکو ملاتړ وکړئ ترڅو یو بل وپیژني (whakawhanaungatanga).
  - په ورځ یا اوونۍ کې یو وخت ځانګړی کړئ ترڅو د ټیم یا همکارانو په توګه سره راټول او ترمنځ مو پیژنګلوی پیدا شي. دا کیدای شي د سهار یا ماسپښین چای، یا د کاري ورځو پرته کومه ورځ وي.
- د کلنۍ غوره سوداګرۍ د جایزې د ورکړې له لارې د غوره کار کولو هنر ته وده ورکړئ، ترڅو پکې د مختلفو کارکوونکو هڅې، مرستې او ټول شموله کاري ځایونه ولمانځل او ارزښت ورکړل شي.

## دټراو احساس

- د هغو ټولنو سره د خبرو اترو په لټه او وده کې واوسئ چې ښايي د پوهاوي د خپراوي او ودې لپاره مختلف نظرونه درسره شریک کړي.
- د نوو محصولاتو او خدمتونو د ازموینې لپاره د ځېرکو ګروپونو/ډلو څخه کار واخلئ او د مختلفو او متقابلو ټولنو څخه د ځیرکو ګروپونه د رامنځته کولو په لټه کې شئ.

## برخه اخیستل

- د کارکوونکو له شبکو اواتحادیو سره مو نوره هم ښکیلتیا اسانه او روانه کړئ.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې ټول کارکوونکي مو خپل حقوقه پیژني:
  - د ګمارنې لاسي کتابونو، د داخلي کارکوونکو د ملاقات ځای او انټرنیټ په وسیله د کارموندنې د حقونو په اړه معلومات چمتو کړئ.
- کارګرانو ته اجازه ورکړئ چې په کلتوري، ټولنیز، مدني او کورنیو مراسمو او خوښیو کې ګډون وکړي.
  - په دفتر کې کلتوري، ټولنیز یا مدني ښکیلتیاوې وهڅوئ یا ولمانځئ. دا لمانځنې یا هڅونې د سهار یا ماسپښین د چای په بڼه وي.
  - کارکوونکي وهڅوئ چې د کورنیو مراسمو او کلتوري او ټولنیزو جشنونو کې د ګډون لپاره وخت ځانګړی کړي.

- په سوداګرۍ کې د مهاجرینو په ګمارنه کې د CV په چمتو کولو کې ورسره د مرستې، د مرکې د مهارتونو، دNZs کاري تجربو او د مناسبې کارموندنې لپاره د پرله پسې لارښونو په وسیله زیاتوالي راولئ.
- په سوداګرۍ کې د مهاجرینو په ګمارنه کې د CV په چمتو کولو کې ورسره د مرستې، د مرکې د مهارتونو، اړوندو روزنو، د موټر د چلولو جواز ترلاسه کولو ته لاسرسي او د مناسبې کارموندنې لپاره د پرله پسې لارښونو په وسیله زیاتوالی راولئ.
- په سوداګرۍ کې د معلولو په ګمارنه کې د CV په چمتو کولو کې ورسره د مرستې، د مرکې د مهارتونو او د مناسبې کارموندنې لپاره د پرله پسې لارښونو په وسیله زیاتوالی راولئ.
- د چیمبر ډرایو په څېړیو برنامه پلې کړئ، کوم چې ۵۰۰۰ کسانو سره د دوی د موټر چلولو جواز په ترلاسه کولو کې مرسته کوي. هغه څوک چې د موټر چلولو جواز لري، د جواز نه لرونکو په پرتله د دندو موندلو امکان یې اووه ځله ډېر دي.
- د سوداګرۍ د لارښوونې کړنلارې پلې کړئ ترڅو د مخ پر ودې خلکو ملاتړ وکړئ چې غواړي سوداګري پیل کړي.
- د سوداګرۍ مالیکینو لپاره ټیټ یا بې لګښته تبلیغاتي منشور/پلېټ فارم چمتو کړئ ترڅو د نورو سوداګریزو ټولنو او د دوی د ټولنیزو رسنیو ترمنځ د کاري فرصتونو کې زیاتوالی راولي.
- د سوداګرۍ لپاره د شخصي، انلاین او د لاسرسي وړ مراسمو او فعالیتونه لپاره وړاندیز وکړئ ترڅو په ټولنو کې له یو بل سره ښکیل او په اړیکه کې شئ.

Te Korowai Whetū
Social Cohesion